Preview (1 / 10) - ketabton.com

## لومړی څپرکی

# په افغانستان کی د مالدارۍ تاریخچه

**ټولیزې موخې**

د مالداری د اهمیت، د غوایانو، وزو، پسونو او چرګانو له روزنې سره بلدتیا

**ښوونیزې موخې:** زده کوونکي به د دې فصل په اخر کي و کړای شي چې:

- د مالدارۍ د اهمیت په هکله وپوهیږي.
- مالداري تعریف کړای شي.
- د هیواد په ملي اقتصاد کې د مالداري په ارزښت وپوهیږي.
- د انسانانو په صحت او روغتیا کې د مالدارۍ په آرزښت دک کړای شي.
- د هغو عمده فکتورونو په باره کې چې حیواني محصولات لوړوي مالومات تر لاسه کړي.

Preview (2 / 10) - ketabton.com

## په افغانستان کې د مالداري تاريخچه

**تعريف:** مالداري د اهلي يا کورنيو څارويو د بيالوژۍ يوه څانګه ده چې له حيواناتو نه د ګټې اخستنې په موخه د عملي اساساتو او منجمنت (Managment) په اړه بحث کوي.

زمونږ په هيواد کې مالداري له لرغونو زمانو څخه يو با ارزښته صنعت ګڼل کيږي او له بيلا بيلو حيواناتو څخه نه يوازي د حاصلاتو په موخه، بلکې د کار او تفريح په مقصد ګټه ترې اخيستل کيده. له ډيري پخوانه مالداري ته د خلکو پام شويده. دوزلوبې لرغونتوب او د سورلۍ مهارتونو سابقه دا په ډاګه کوي چې پدې خاوره کي له اهلي حيواناتو څخه ګټه اخيستل له ډيري پخوا نه دود ول، خو زمونږ د هيواد د کرهني ډيره لويه او مهمه برخه له مالداري څخه تشکيل شوي، چې د حيواناتو له ساتني او روزنې څخه عبارت ده، څکه کوم داسې بزګر به چيرته و نه ليدل شي چې د کرنيزو چارو تر څنګ د حيواناتو په ساتلو او په روزلو کې بوخت نه وي ،خود يا دولو مهم ټکي دادي چې تر ډيره بريده د حيواناتو روزل او ساتل په محلي او عنعنوی توګه تر سره کيږي.

زمونږ په ګران هيواد کې له پخوا زمانو څخه را پديخوا د حيواناتو روزل او ساتل د د بيلابيلو مقاصدوږ په موخه تر سره کيدل چې څيني يې په لاندي ډول دي:

۱- د کار د تر سره کيدو پخاطر: د قلبې له غوايان، او ښانو او اسونو څخه د ځمکې د يوې کولو په مقصد ګټه اخيستل.
۲- د حمل او نقل په مقصد لخ اوښانو، اسونو، کچرو او خرو څخه کار اخيستل.
۳- د غوايانو، وزو،ميښواو پسونوله شيدو، غوښې، او پوستوکو څخه او د هګيو په مقصد له چرګانو څخه ګټه اخيستل.
۴- له پسونو، وزو او اوښانو څخه وړۍ لاس ته راوړل.

Preview (3 / 10) - ketabton.com

باید وویل شي چې د مالداري په هکله کوم نوي میتود چې و کړای شي د حیواناتو نسل په دقیقه توګه اصلاح کړي، تر اوسه پکار ندی اچول شوي او هم تر اوسه د هیواد په کلیو او بانډو او ولایاتو کې دحیواناتو روزنه او ساتل کیدل په عنعنوی ډول تر سره کیږي.

## د مالدارۍ اهمیت

په تیرو وختونو کې له حیواناتو څخه د یوېي کولو ، درمند کولو، باروړلو، سورلي او د غوښو، شیدو، شاتو، هګیو، همدا شان د چرم، وړیو، وریښمو او داسي نورو خوراکی او خدمتي توکویو په توګه په بېلا بېلو مقاصدو کي استفاده کیده خو د وخت په تیرو سره له حیواناتو څخه د کار په مقصد ګټه اخیستل ورو ورو کم شول، مګر حیواني محصولاتو د انسانانو په خوراك او نورو بیلابیلو برخو کې لا اوس هم خپل اهیت پرځای ساتلی دی.

د چې افغانستان یو کرنیز او د مالداري لپاره یو غوره هیواد دی چې کابو له (۸۵) څخه تر (۹۰) فیصده وګړي یې په کرهنه او د حیواناتو په روزنه بوخت دی.($F \cdot A \cdot O$) د ۱۳۸۲ کال احصایه په ډاګه کوي چې په افغانستان کې 3.715 میلیونه غوایي او غواګانې ،8.77 میلیونه میږې او پسونه (پرته له قره قل د پسونو څخه ) ، 7.22 میلیونه وزی، 0.141 میلیونه پسونه، ۱۳۸ زره اوښان او 12.15 میلیونه چرګان شمیرل شوي دی .باید وویل شي چې د ذکر شویو الوتونکو او مواشیو له شتون سره سره دغوښو،شیدو، لبني موادو او د چرګانو د هګیو اندازه د هیواد وګړیو، په ځانګړي توګه ماشومانو ته په کافي اندازه نه رسیږي له دې امله هغوی په سوء تغذۍ اخته کیږي.

په کال کي سړي سر یا یو تن ته ۰،۴ دانې هګی رسیږي په همدې توګه نور محصولات هم په همدې کچه محاسبه کیدی شي.

Preview (4 / 10) - ketabton.com

دا چې زمونږ په هیواد کې څاروي او طیور له محلي نژاد څخه دی ، نو ډېر ټیټ اودلږ او لنډې مودې له پاره حاصل ورکوي. څنګه چې په منځنی توګه یوه غوا په کال کې ۵۲۵ لیتره شیدې او یوه چرګه له۸۰ څخه تر ۱۲۰ پوري او د شیدو او هګیو د ورکړې موده یې ترتیب سره له ۳ څخه تر ۶ میاشتو او لخ ۸۰ څخه ۱۲۰ ورځو پوري رسیږي، خو په اصلاح شویو نسلونو کې د غه معیار نسبت دغه ته خورا اوچت دی.

دحیوانې او چرګانو ږ محصولاتو د زیاتوالي لپاره لاندني ټکی ضروري دي:

**الف**- د محلي نژاد نسلګیرئ او د نسل اصلاح کول (Breeding)

**ب**- ښه او متوازنه غذا او جیره (Feeding)

**ج**- اداره او منجمنت (Management)

**د** - حفظ الصحه او وقایه (Hyqienic and prophylactics)

د متخصصینو د نه ستړي کیدونکو هلوځلو له کبله نني اصلاح شوي نسلونه د مالداري هغې کچې ته رسیدلي دي چې په حقیقت کې د بشریت د تغذئې په ښه والی کې ښه او اغیزمنه ونډه اجرا کولای شي. د مثال په توګه:

د یوې شیدو ور کوونکي غوا محصولات ورځ څلورو منو یا ۲۸ کیلوګرامو ته زیات شویدي.

همدارنګه څرګنه ده چې بشریت د حیواناتو د نسل په اصلاح کولوکي اوچت پر مختګ کړي دي. په اوسنی وخت کې د پسونو حاصلاتو هم ډېره و ده کړیده: د مثال په توګه که دغوښینو پسونو د روزنې یوې دورې ته ځیرشو ،په منځنی توګه د ورځې له ۳۰۰ څخه تر ۱۴۰۰ ګرامه دوزن ډیروالي پکې را غلی دی او متخصیصین لا هم هیله مند دې چې د نوموړي ودې د چټکوالي کچه تر ۱۸۰۰ ګرامو پورې اوچته شي.

Preview (5 / 10) - ketabton.com

د چرګانو په روزنه کې هم دسترګو وړ پرمختګ راغلي دي او خپلې لوړې کچې ته رسیدلي دي. همدارنګه په ځنی عصري پرمختللو فارمونو کې له هرې اصلاح شوې هګۍ ورکونکې چرګې څخه په کال کې له ۳۰۰ څخه تر ۳۳۰ دانې هګۍ تر لاسه کیږي،چې حیواني محصولاتو د کچې دغه زیاتوالی د دې زمینه برابرو ي چې مالداري تشویق او پرمختیا وکړي.

## د مالدارۍ اهمیت کولای شو په لاندې ډول خلاصه کړو

۱- حیواني محصولات له ډیرو ګټورو توکیو څخه دي چې د انسانانو غذایي مواد جوړوي.

۲- د مالداري محصولات د نساجیو او وړیو اوبدولو په صنعت کې خورا اهمیت لري.

۳- د مالداري هغه فرعي محصولات چې انسانان په خوراکه کې ترې ګټه نشي اخیستلای په نورو او با ارزښته او ګران بیه شیانو بدلوي.

۴- مالداري د کرهنې نه بېلدونکې برخه ده. حیواني سره چې د خاوري د تقویې او حاصل خیزۍ او د حاصل د ډېروالي لا مل ګرزي له حیواناتو څخه منځته راځي.

۵- په هغو غرنیو هیوادونو کې چې ځمکه ئې ټیټه او هسکهاو خاوره ئې کرنیز وچارو لپاره برابره نه وي مالداري پکې ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې د داسې سیمو خاوره ښه څړ ځایونه کیدای شي او د حیواني عایداتو په ښه سرچینه بدلیدای شي.

۶- مالداري د کروند ګرو او کرنیزو کار ګرانو له پاره د شغل یوه مفیده او ښه سرچینه دی چې د ځانګړیو نباتي فصلونو له اخستلو وروسته دوي بیا هم د دیر وخت لپاره بوخت ساتلای شي.

## په کرنه کې دمالدارۍ اهمیت

حیوانات هغه څه دي چې نباتي محصولات حیوانې غذائي محصولاتو او خاصو موادو باندي بدلوي او له بلې خوا د ځارویو سره د ځمکی د تقویې پخاطر ډېر اررښت

Preview (6 / 10) - ketabton.com

لري. له غوجلي څخه کروندو ته د عضوي موادو لیږد د حیواناتو د شتون په صورت کي امکان لري.

د حیواناتو د تغذیې او خوراکي موادو د اړتیا توپیر د دې باعث ګرځي تر څو په ځمکه کي د سیستماتیک کرنیز تناوب لپاره شرایط برابر شي او شاړي ځمکي په لویو کرنیزو ساحو باندي بدلي شې.

همدارنګه د غوایانو، پسونو، خرو، کچرو او اوښانو څخه د لیږد را لیږد د قووې په توګه کار اخیستل کیږي.

## د هیواد د ملي اقتصاد په تقویه کې د مالداري اهمیت

مالداري زموږ په هیواد کې د استخدام د خلکو د بوختیا لویه برخه او عمده برخه جوړوي. د مالداري د محصولات د اومو او نه بدلیدونکو موادو، دسپکو صنایعو او غذائي موادو له پاره اساسي سرچینه ده، په اوسنیو شرایطو کې یو اساسي ټکی چې د خلکو د ژوند کچه مالوموي داده چې ، شیدې، غوښه او نور محصولات په لمړي قدم کي تر کومه بریده د انسانانو بیولوژیکي ضرورت ته په پام سره د هغوی خوراکي اړتیاړي پوره کوي، په هیواد کې د کرهنې او مالدارۍ وده په راتلونکي کې د صنایعو په وده پورې تړلې ده، ځکه له باندینیو هیوادونو او بین المللي بازارونو څخه هیواد ته ځوانو صنایعو په موخه د موادو را وړل غیر اقتصادي او ناشونی بریښي.

## د هیواد د ملي اقتصاد په تقویه کې د مالداري اهمیت په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

۱- مالداري د استخدام او دګټورې بوختیا په توګه لویه سرچینه ده.

۲- د عایداتو سرچینه.

۳- بهرته دلیږدیدونکو مهمو اقلامو او د اسعارو لاس ته راوړلو سرچینه.

Preview (7 / 10) - ketabton.com

۴- د هیواد د کرنې د سکتور تقویه.
۵- د اومو غذائي موادو سرچینه.

**۱- مالداري د استخدام او ګټورې پراختیا د لویې سرچینې په توګه:** د وروستی احصائي پر بنسټ چې په لاس کې یې لرو زموږ دهیواد والو له ۱.۵ میلیون کورینو څخه زیات کوچیان دي. زمونږ د هیواد ټول وګړي له ۲۹ ملیونو څخه زیات دې چې ۸۵٪ یې په کرهنه او د څارویو او مرغانو په روزنه کې بوخت دي.

**۲- د عایداتو سرچینه:** د مالداري له غوره روزنیز او بهترو طریقو په وړاندې کولو او د اصلاح شویو نژادو په پیژندلو او له اصلی روزنیزو میتودونو څخه کار اخیستل په اقتصادي وضع کې د ښه والی لامل ګرزي د ملي حیات د ژغورني او خلکو د ژوند په ارتقا کې د زیات اهمیت وړ ګڼل کیږي.

**۳- بهرته مهمو اقلامو دلیږد او بهرنیو اسعارد لاس ته را وړلو سرچینه:** په کال ۱۳۸۵ کې بهر ته استولو شویو، د پسونږ وړیو، قره قل، پوستکو، کولمیو ، خامو پوستکو ، غالیو ،ټغرونو، لم څیو، شالونو، پوستین او پوستینچو د نړیوال تجارت ستره برخه جوړوله او په رسمي رسمي توګه یې د ملي عوایدو ۳۰٪ برخه جوړوله، پداسې حال کې چې دا ټول عواید له محلي او کم حاصله نژادو څخه پلاس راغلې وو.

**۴- د هیواد د توپوګرافی د ضعي لپاره غوره یا موافق سکتور:** دهغو پراخو امکاناتو له لرولو سره چې پدی لوی هیواد کې د حیواناتو د روزلو او ساتلو لپاره میسر دي یو دا ده چې افغانستان یو غرنی هیواد دي،او زیاته برخه یې د توپوګرافي له نظره د کرهني لپاره مساعده نده، خو ددې برعکس له دغو سیمو څخه څخه د موثره څړ ځایونه په توګه استفاده کیدای شي چې د هیواد ۵۴ میلیونه هکتاره ځمکه یوازي څرځایونه جوړوي.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

له دې کبله د څارويو د روزلو او ساتلو ته مساعده ده. چې تيغ تر نيغه ۴.۴ ميليونه هکتاره ځمکه د کرنی سيمه ګڼل کيږي.

**۵- د غذايي او اومه مواد سرچينه:** حيواني محصولات لکه غوښه، شيدې، هګۍ او نور بر سره پردې چې د خوند او مزې د پلوه د ارزښت وړ دي د خاص غذايي کيفيت په لرلو سره د روغتيا را وړونکي او د غذا د کم والي لري کوونکي او د وجود د مقاومت په لوړوالي کې خاص اهيمت لوبوي.

د هيواد د صنايعو وده دکرهنې او مالدارۍ و دي ته اړتيا لري. ځکه چې د ځوانو صنايعو لپار له بهرنيو هيوادونو څخه د موادو راړل او واردول غير اقتصادي او ناممکن ده.

## د انسانانو په ژوند کې دمالدارۍ د محصولاتو ارزښت

**هغه څيړني چې** په دې ورستيو کې تر سره شويدي څرګندوي چې هر سړی د بدن يوه ګرام وزن د زياتوالي لپاره کابو يو کيلو ګرام پروټين ته اړتيا لري چې بايد ۲/۳ برخه يې نباتي منشأ او يو۱/۳ برخه يې د حيواني منشأ لرونکي وي. که هر انسان په منځني ډول ۷۰.۵ ګرامه پروټين ته اړتيا ولري نو ليږ تر ليږ ۲۳.۵ ګرامه يې بايد له حيواني پروتينو څخه پوره شي. نو د دې پروټين ۱۷ ګرامه د غوائي له غوښې، شيدو او ۳.۵ ګرامه د پسه له غوښې څخه او نژدې ۳ ګرامه يې د هګيو له پروټين څخه په ورځني غذائي لګښت کې پوره شي.

## د انسانانو په روغتيا او سلامتيا کې د مالدارۍ ارزښت

د مالدارۍ محصولات د انسانانو په روغتيا او سلامتيا کې فوق العاده ارزښت لري ، چې د سوء تغذي د امحا په صورت کي د زياتو ناروغيو مخه نيول کيدی شي. زمونږ په ګران هيواد افغانستان کې چې د نفوسو په شمير کي يې ورځ په زياتوالی راځي ،تر اوسه په اټکلې ډول له ۲۹ مليون څخه زيات وګړي پکي ژوندکوي، دوی د خپل ورځني ژوند

Preview (9 / 10) - ketabton.com

له پاره ښه خوراك او روغتيا ته اړه لري تر څو وكولای شي خپلې نور مال ودې ته ادامه وركړي او له لوړې سره مخامخ نشي ځكه د لوږی يا سوء تغذي مرض كوچنيان له دماغی او ځانی ودې څخه پريږدي.
هغه عمده فكتورونه چې د كورنيو حيواناتو د اصلاح او د حاصل د ډيروالي سبب گرځي:

## هغه عمده عوامل چې حيواني محصولات لوړه وي، په لاندي ډول دي:

١- خوراك او تغذيه يا (Feed and Feeding)
٢- نسلگيري او د نسل اصلاح يا(Breeding)جنتيكي ارزښونه او د(بقې)انتخاب.
٣- ښه روزنه او اداره(Management)
۴- حفظ الصحه(Hyqienic)
۵- په خپل وخت د څاريو وقايه (Prophylactics)
۶- بازامیندنه(Market)
٧- توليدي رقابت (Compitation product)

**١- خوراك تغذيه او خواړه:** د تغذئې او غذا ارزښت يو له هغو عواملو څخه گڼل كيږي چې د مالدارۍ د توليداتو كچه لوړه وي، د څاريو او مرغانو د تغذئې موخه دا ده چې ژوند ته ادامه وركړي او فزيكي كارونه تر سره كړي او له تولونه مهمه لا دا چې د حيوان د توليداتو او محصولاتو كچه لوړه شي.

هغه ماده چې له خوراك څخه وروسته د هضم او جذب وړ وي او حيوان ته گټه رسوي غذا نوميږي ،او تغذيه د هغه مقدار خوړو څخه عبارت ده چې د حيوان غذايي اړتيا پوره كوي. د دې لپاره چې حيوان ښه حاصل او توليد وركړي بايد د اړتيا په كچه مناسب خواړه وركړل شي . حيوان ته د تغذيې په وخت كې د غذا كيفيت او كميت په پام كې نيول كيږي. حيوان د بېلابېلو فزيو لوژيكي مراحلو او فعاليت د څرنگوالي لپاره غذاته

Preview (10 / 10) - ketabton.com

اړتیا لري. د وچې غوا او شیدو ورکوونکې غوا غذا د کمیت او کیفیت له پلوه سره توپیر لري. د اړتیا له مخي د د حیوان په مکمله جیره کې لاندې ټکیو ته پاملرنه کیږي.

**الف- پروټین:** پروټین له امینو اسیدونو څخه جوړ شویدي او وجود اساسي جوړښتیزه ماده ده، چې د بدن ټول انساج ترې جوړشویدي، برسیره پر دې په خپل جوړښت کې انزایمونه، هارمونونه لري. ضروري ده چې د حیوان د فعالیت د څرنګوالي له مخې یې په څیره کې اندازه په پام کې ونیول شي.

**ب- انرژي:** ټول حیوانات د ژوند د بقا او پایښت په موخه انرژی ته اړتیا لري، البته اندازه ئې په جیره کې د حیوان د فعالیت په ډول پورې اړه لري. په غذاېي توکیو کې د انرژي سرچینې له بورې، نشایستې، سلولوز، شحمیاتو او پروټین څخه عبارت.

**ج- معدني مواد:** معدني مواد د هډکو او غاښونو په جوړښت او د غذایي موادو د استقلاب یا میتابولیزم په څیر د بدن په نورو فعالیتونو کې ونډه لري، پس اړینه ده چې د څیرې په ترکیب کي یې مقدار په پام کې ونیول شي. د مثال په توګه: کلسیم، پتاسیم،فاسفورس،کلورین، مالګه، سوډیم، اوسپنه، کوبالت.... مولبدینیم او داسې نور ضروري عناصر ګڼل کیږي چې نشتوالي یې کولای شي په وجود کې نا خوښه علایم را منځ ته کړي.

## استتقلاب یا میتابولیزم

هغه کیمیاوی فعالیتونه دي چې د ژوندیو موجوداتو په بدن کې سرته رسیږي او د میتابولیزم په نوم یادیږي چې د خوړو لوی مالیکولونه: لکه پروتینونه، کاربوهایدریتونه، غوړ، چې ټول د کیمیاوي عملي پواسطه په خپلو وړو ساده اجزاؤ لکه امینو اسیدونه، ګلوکوز او شحمی تیزابونو باندې بدلیږي او د کولمو د جدار له لارې جذب او د وینې دوران ته ننوځي.

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

Buy this book - ketabton.com

https://ketabton.com/books/ymRmd9seWug

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.